PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

آیا انسان ګمان کوي چې مهمل او بابیزه پرېښوول شي؟ آیا دهغې مني چې په (رحم کې) توی شوی یو څاڅکی نه و؟ بیا د وینې یوه ټوټه وه، الله پاک پیدا او ښه برابر یې کړ. او له همده څخه یې د نر او ښځې جوړه وړاندې کړه. آیا همدغه ذات توانا نه دی چې مړي راژوندي کړي؟ هو توان ورسره شته. (الدهر: ۳۵ - ۴۰ آیتونه)

درس حدیث

له معاویه رضی الله عنه نه روایت دی چې ما عائشې رضی الله عنها ته یو لیک ولېږه چې ماته داسې یو لیک ولیکه چې څه نصیحت پکې راته وکړې او زیاتوه یې مه. نو هغې راته ولیکل: په تا دې سلام وي، له سلامه وروسته خبره داده چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چې فرمایل یې: "چا چې د خلکو په ناراضه کولو کې د الله رضا ولټوله نو د خلکو له کړاوه به ورته الله بس شي او چا چې د الله په ناراضه کولو کې د خلکو رضا ولټوله نو الله به یې خلکو ته ور وسپاري" او په تا دې سلام وي. (ترمذي)

شهادت دربیم کال، ۷ مه ګڼه، پرله پسې ۱۰۷ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د غویي ۲۱ مه د۱۴۳۲ هـ ق د جمادی الثانی ۸ مه د۲۰۱۱ م د می ۱۱ مه

امریکا :

علیه الظواهری و ملا محمد عمر یا پاکستان عملیات نماید و یا ما انجام میدهیم

کابل، پژواک:
امریکا میگوید که این مربوط پاکستان است که علیه ایمن الظواهری آنها عملیات میکنند و یا ما انجام دهیم.
این اظهارات را کمیرون منتر سفیر امریکا در پاکستان روز گذشته در مصاحبه با یک شبکه تلویزیونی پاکستانی بیان نمود.
وی علاوه نمود که اسامه بن لادن، یک تروریست بین المللی بوده و دستهای وی با خون مردمان بیگناه آلوده بود.
اما موصوف گفت: "این مربوط پاکستان است که علیه ایمن الظواهری، معاون اسامه و ملا محمد عمر رهبر طالبان مسلح آنها عملیات میکنند، یا مااین عملیات را انجام دهیم."
سفیر امریکا در پاکستان گفت که بعد از اسامه ،اعضای شماره دوم، سوم، چهارم و پنجم و ملا محمد عمر رهبر طالبان نیز، باید از بین برده شوند.
به گفتهٔ موصوف، دهشت افگنان استقلال پاکستان را با خطر مواجه نموده وامریکا یکجا با پاکستان علیه آنها مبارزه خواهند نمود.
از طرف دیگر، حکومت امریکا اظهارات یوسف رضا گیلانی نخست وزیر پاکستان را رد نمود، که گویا امریکا از پاکستان معذرت بخواهد.

بقیه در صفحه ۳

نظر پوښتنه:

په سلو کې ۵۶ امریکایان غواړي عسکر یې له افغانستانه ووځي

تاند:
د راسموسن رپورټز په نامه د یوې اداري د سروې له مخې زیاتو امریکایانو ویلي چې امریکایي ځواکونه دې سم د لاسه له افغانستان څخه ووځي یا دې ورته یو مهالوېش وټاکل شي، چې په یوه کال کې دننه له دې هېواده ووځي.
د نظرپوښتنې له مخې احتمالاً په سلو کې ۳۵ امریکایان دېته لېواله دي چې ژر تر ژره دې امریکایي عسکر له افغانستان څخه ووځي، په سلو کې ۲۰ خلک د یوه مهالوېش د جوړېدو پلوي کوي، چې له مخې یې دغه عسکر په یوه کال کې دننه خپلو کورونو ته ستانه شي.
د ۵۶ فیصده په ترکیب کې د مارچ له پیله څلور امتیازه زیاتوالی راغلی، چې دوی له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتل غواړي، د ۲۰۰۹م کال

پاتې ۳ مخ

جرمني له پاکستانه د بن لادن د استوګنې د ځای په باب توضیحات وغوښتل

تاند:
د جرمني د بهرنیو چارووزیر د دوشنبې په ورځ په پاکستان کې د القاعده شبکې د مشر اسامه بن لادن د اوسېدو په باب د دغه هېواد له حکومت څخه د دقیقو توضیحاتو غوښتنه وکړه.
له اسلام اباد څخه د تاند د راپور له مخې د جرمني د باندنیو چارو وزیر ویستر ویلي له پاکستانه وغوښتل چې په دې هیواد کې د اسامه بن لادن د استوګنې په باب وضاحت وکړي او دا هم ورته ووایي چې هغه څرنګه

پاتې ۳ مخ

مقامات امریکایی از حملات احتمالی طالبان بر ولایت هلمند هشدار دادند

کابل، رسانه ها:
سفارت ایالات متحده، امریکا در کابل طی اعلامیه، از امریکایی ها خواسته است بخاطر افزایش حملات احتمالی در ولایات جنوبی افغانستان از احتیاط کار بگیرند.
سفارت امریکا گفته است که مخصوصاً در رابطه با حملات از سوی طالبان در ولایات هلمند معلومات بدست آورده است.

بقیه در صفحه ۴

د اسامه پر سر اعلان شوی انعام هیچا ته نه ورکوو "امریکا"

کابل، پژواک:
امریکا ویلي، چې د القاعده د وژل شوي مشر اسامه بن لادن پر سر اعلان شوي ۲۵ میلیونه ډالره انعام هېچا ته نه ورکوي.
اسامه بن لادن، چې تېره اونۍ د ځانګړیو امریکایي ځواکونو له خوا د پاکستان په ایبټ اباد ښار کې ووژل شو، پر امریکا له بریدونو وروسته دغه هېواد د هغه د وژلو یا نیولو پر سر د ۲۵ میلیونه ډالرو انعام اعلان کړی و.
خو د سپینې ماڼۍ له خوا تېره شپه په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې ویل

پاتې ۳ مخ

حامد کرزی در کنفرانس کشور های کمتر انکشاف یافته سخنرانی کرد

استانبول، رسانه ها:
رییس جمهور افغانستان حامد کرزی در چهارمین کنفرانس کشورهای کمتر انکشاف یافته که در آن ۱۱۷ کشور دیگر از جمله سران ۵۰ کشور سهم دارند، در مورد مشکلاتی که افغانستان از ده ها سال جنگ به میراث گرفته توضیحات داده و پیشرفت های را که در چند سال اخیر بدست آورده است، نیز قلمداد کرد.
در این کنفرانس سه روزه که دیروز افتتاح شد، اشتراک کننده گان در مورد فقر، گرسنگی، شیوع امراض، زیربنا های ضعیف اقتصادی، ظرفیت بشری و بی سوادی در کشورهای کمتر انکشاف یافته صحبت کرده و برنامه عملی را به منظور جلب همکاری جهان جهت کاهش این مشکلات تصویب خواهند کرد.
میزبان این کنفرانس رییس جمهور ترکیه عبدالله گل گفت که در حال حاضر ۱۳ فیصد نفوس جهان در کشورهای کمتر انکشاف یافته بسر می برند، در حالی که آنها صرف یک درصد محصولات اقتصادی جهان را

بقیه در صفحه ۴

امریکا اسامه بن لادن ربښتوني ثابت کړ

لیکنه: عبدالله "کامه وال"

د امریکې پر خلاف جنګېدونکې د القاعده ډلې مشر اسامه بن لادن له مرګ وروسته هم مسکې ښکارېده خو دده دښمنانو یې پر مرګ د خوشحالی د سندرو پر ویلو او نڅاګانو جشن جوړ کړ. هغوی په دې نیه پوهېږي چې د اسامه بن لادن له جسد نه د ساه وتلو وروسته هم هغوی نه پر بړدي او هغه په دې مانا چې اسامه یو شخص و او لاړ خو القاعده یو فکر او منظمه ډلګی ده، دا ډلګی نه یوازې دا چې په افغانستان او پاکستان کې پلویان او ښواخوږی لري بلکې په ډېرو اسلامي او غیر اسلامي هېوادونو کې خپل ښواخوږې او پلویان لري. تر دې وړاندې عام ذهنیت دا و چې اسامه بن لادن د امریکا سرې دی او سیمې ته یې د امریکا په راوستو کې لوی نقش ولوبولو او دلیل به یې دا و چې امریکا څنګه د دومره پرمختللې ټکنالوژۍ سره سره پر دې نه توانېږي چې اسامه مړ او یا یې ژوندی ونیسي دا ډول پوښتنو خلک د نوموړي په سیاسي او نظامي ټګلاره شکمن کړي وو خو اوس ثابته شوه چې اسامه په ربښتیا د امریکا مخالف و، او په دې مخالفت کې یې خپل ژوند هم دلاسه ورکړ او هغه وړاندوینې غلطې ثابتې شوې، او بیا په داسې یو مرګ چې د مړي سره یې هم دښمنان دښمني پالي او هغه هم داسې دښمني چې په هېڅ ډول انساني ټولنو کې یې مثال نه لېدل کېږي. د ۲۰۱۱ کال د مۍ پر دویمه د پاکستان د خیبر پښتونخوا د ایبټ آباد په یوه داسې سیمه کې چې هم د سیاحت ساحه ده او هم په دې سیمه کې د پاکستاني پوځ لویه پوځي اکاډمي شتون لري. د امریکا د سمندري قواوو له خوا د القاعده پر مشر برېد وشو او په پایله کې یې ددې ډلې مشر اسامه بن لادن ووژل شو. امریکا ددغې شخص په وژل کېدو یو داسې شهید اسلامي ټولنې ته وړاندې کړ چې دهغه د مړ وجوده هم د نړۍ تر ټولو ځواکمن فوځ په ویره کې دی، ددې ویرې یو دلیل دا دی چې د اسامه بن لادن مړی یې د نړۍ په یو کنج کې هم ښخ نه کړ، له دې کړنې د امریکا هدف دا دی چې د مسلمانانو لپاره د یو بل

پاتې دریم مخ

غرب جنگ افغانستان را همچنان ادامه خواهد داد "راسموسن"

خبرګزاري فارس:
دبیر کل سازمان پیمان اتلانتیک شمالی (ناتو) در گفت‌وگو با یک شبکه تلویزیوني امریکایي بر تمایل غرب به ادامه جنګ افغانستان حتی پس از اعلام خبر کشته شدن "اسامه بن لادن" سرکرده القاعده تأکید کرد.
به گزارش فارس، "آندرس فوګ راسموسن" دبیر کل سازمان پیمان اتلانتیک شمالي (ناتو) روز گذشته در گفت‌وگو با شبکه تلویزیونی "فاکس‌نیوز" اعلام کرد: با وجود افزایش درخواست‌ها مبني بر پایان جنګ افغانستان، قدرت‌هاي غربي همچنان به این جنګ ادامه خواهند داد.
وي افزود: تروریزم بین المللي همچنان تهدیدي براي کشورهاي ما

بقیه در صفحه ۴

سرلیکنه

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

افغاني قيادتونه يا د افغانستان د لانجې مرکزي کردار

د افغانستان ټول سياسي، ديني او قومي مشران چې هر څه کوي دهغه په روا والې او نه روا والې ډېر ښه پوهېږي داسې نه دی چې نه پوهېږي بلکې دهغه ډېریور په خبر عارفانه تجاهل کوي، چې د ماهيپر په خبر سړک کې د تيز موټر چلول له خطر نه خالي نه دی، شاته ناستې سورلی هم ورته د احتياط غږ کوي خو هغه د پوهې باوجود د ناپوهی حرکت کوي او بالاخر خپل او د سورليو د ژوند ډيوې مړې کوي.

موږ افغانان چې د خپل هېواد او ولس لپاره کومې کړنې ترسره کوو هغه پر موږ نه تحميلي دي او نه هم جذباتي بلکې پخپله خوښه مو ځانو ته غوره کړي دي، که تحميلي او جذباتي وای نو بيا به دومره دوام نه وکړي خامخا به څه بدلون راغلې و، ډېرو به له خپلو کړنو څخه لاس اخستې و او دا به يې په ډاګه کړې و چې زموږ پخواني کړنی تحميلي او جذباتي وې چې اوس ترېنه توبه ګار يو.

زموږ د ګوندونو مشران او دهغوی ډلې ټپلې نن هم پخپلو تېرو دريځونو ولاړ دي يو هم له خپل موقف نه تنازل نه دی کړی، څو کاله وړاندې چې څه ويل او کول نن هم همغه تعقيبوي، پخوا هم بې اتفاقه وو نن هم بې اتفاقه دي، پخوا يې هم پر يو بل تورونه لګول نن هم لګوي، پرون هم د يو بل د محوه کولو پر پاليسي عمل کاو نن هم د يو بل د ختمولو پر پاليسی عمل کوي، سره لدېنه چې د ولس اکثريت وګړي د هغوی له دې پاليسی سره مخالفت کوي، ددې له بدانجام او عواقب څخه يې خبر وي مګر هغوی پخپلو کارونو کې دومره غرق دي چې دهبچا خبرې پر هغوی تأثير نه کوي، هغوی ښه پوهېږي چې کومې کړنې او پاليسي پرمخ بيايي سراسر د هېواد او ولس په تاوان دي خو د خپلو شخصي او ګوندي ګټو د پاللو په خاطر دا هر څه په داو لګوي، که نه زموږ له مشرانو څخه هر څوک په دې خبره ښه پوهېږي چې اختلاف، افتراق او له يو بل سره دښمني د هېواد او ولس په ګټه نه دی.

ولس هر ګز دا خبره نشي منلي چې زموږ مشران نه پوهېږي او دا هر څه په قصدي توګه نه ترسره کوي. داسې نه ده بلکې دا هر څه پخپله خوښه د پوهې باوجود ترسره کوي.

که دوی واقعاً دومره ناپوه او بې بصيرته وای، د ګټې او تاوان لاره يې نه شوای سنجولی نو بيا به خپلې ذاتي ګټې هم نه وې پېژندلې، په افغانستان کې دننه او باندې به د مليونونو ډالرو جايدادونو او نقدو پيسو مالکان نه وو ګرځيدلي. دوی شخصي ګټو او ملکيتونو دومره مست کړي دي چې د هېواد او هېوادوالو ګټې ورته هيڅ نه ښکاري.

که هندوان، يهودان، نصاری، بدايان، کمونستان او نورو کفري هېوادو مشران د خپل هېواد او ولس له ګټو نه ناخبره نه پاتې کېږي، جنګ جګړه، بې اتفاقي، فساد، رشوت، نسلي، ژبني او سمتي تعصبونه حرام بولي نو دا څنګه شوني کېدای شي چې مسلمان مشران دی چې په اسلامي علومو کې لوړې زده کړې هم کړی وي ددغو شيانو په حرمت او تاوان پوه نه شي؟!

هغه مشران او سياست پوهان چې په منبر او سټيج باندې په ساعتونو ساعتونو د اسلام سپېڅلی دين په غوره والې رڼا اچوي او دا ثابتوي چې د الله جل جلاله دين په نورو ټولو اديانو غوره دی څنګه په دې خبره نشي پوهېدلی چې هغوی په افغانستان کې کوم سياست او پاليسی پرمخ وړي هغه په الهي دين کې حرام دی؟ په کار خو دا و چې دا يې په عملي ډګر کې ثابت کړی وای او د نړی نورو وګړو ته دا ښودلای وای چې موږ مسلمانان د ژوند په هر ډګر کې له هغوی نه زيات د انسانيت د خدمت مصدر ګرځېدلي يو، او هر چېرته مو د تقليد وړ کارنامې ترسره کړي دي، خو ډېر افسوس چې زموږ مشران دداسې ثبوت په وړاندې کولو کې پاتې راغلي دي، ځان يې هم د خندا کړی او اسلام يې هم.

زموږ ټول ديني او سياسي مشران دی دا واقعيت ومني چې تر څو پورې دوی خپل ايماني او افغاني مسؤوليت په صحيح معنی ترسره نه کړي او پخپله د ورپېښو کړاوونو او مسائلو دله منځه وړلو لپاره عملي ګامونه اوچت نه کړي پردي هېوادونه يې په غم کې نه دي، د افغانستان د لانجې مرکزي کردار او محور پخپله افغاني قيادتونه او چارواکي دي، د ګاونډيو او نورو هېوادو سياستونه د افغاني قيادتونو د سياستونو او پاليسيو تابع دي، که چېرته د افغانستان مشران پخپل هېواد کې د امن، استحکام او ملي يووالي بنسټ کېږدي نو له څه شک پرته به نور هېوادونه هم له افغانانو سره د اړيکو ټينګولو هغه لارې خپلې کړي چې په نړی کې عام رواج دی. په نړی کې د هر چا قدر او قيمت دهغه هېواد د شان او حيثيت مطابق کولې شي، خو دا شان او حيثيت ترلاسه کول د هر هېواد د وګړو خپل کار دی. که د افغانستان، مشران غواړي چې هېواد يې د امن زانګو شي، د ژوند په هر ډګر کې پرمختګونه وکړي، په نړی کې د عزت او درناوی مقام وګټي نو ددې يواځيني لاره داده چې خپله قبله سمه کړي، شخصي ګټې تر پښو لاندې، او د افغانستان ګټو ته لمړېتوب ورکړي، په دې کار سره به نه يوازې دا چې د افغانستان ملي هويت، استقلال او شان پر ځای شي بلکې په نړی کې به د عزت او درناوی مقام هم ترلاسه کړي، نه به بيا د نورو هېوادو تر يرغل لاندې راځي او نه به هم له يو عالم کړاوونو او پريشانيو سره مخامخ کېږي.

سبوتاژ صلح؛ تشدید جنگ و تداوم بحران!!

اعزامی

در نتیجهٔ تلاش های صلح جویانهٔ دولت افغانستان در جریان یک سال گذشته، جوانه های صلح و آشتی کم کم دارد جان می گیرد و آرزوها و امیدهای ملت زجر دیدهٔ افغان، پس از سه و نیم دهه جنگ و بحران عنقریب به بار می نشیند. امیدواری ها برای ایجاد صلح زمانی قوت گرفت که سال گذشته، دولت افغانستان شورای مشورتی مرکب از نماینده های ملت به اضافه اعضای شورای ملی و دست اندر کاران دولت، فیصله کردند که مردم افغانستان دیگر تاب و تحمل دوام جنگ و طولانی شدن بحران را ندارند و حکومت باید بهر قیمتی برای تأمین صلح و آشتی با مخالفان دولت با استفاده از هر امکان و زمینه ای دست بکار شود.

تشکیل شورای عالی صلح، نخستین و بارزترین اقدامی بود که دولت درین راستا بدان متوسل شد، شورای عالی صلح تحت رهبری استاد برهان الدین ربانی، رئیس جمهور سابق و رهبر حزب جمعیت اسلامی که چهرهٔ معتدل و قابل قبول برای همه اطراف درگیر قضیه به شمار می رود، گام موثری دیگری بود که برای تحقق پروسهٔ صلح برداشته شد. مطلب جالب توجه در گزینش استاد ربانی به حیث رئیس شورای صلح و آقایون عبدالحکیم مجاهد و مولوی عطاء الله لودین به صفت معاونین او، درین نکته نهفته است که جناب استاد، رهبری معنوی تمام کتله ها و حلقات سیاسی مخالف دولت (داخل حاکمیت) را بعهده دارد که بنابر عواملی از جمعیت اسلامی منشعب شده اند و اگر استاد خواسته باشد که این کتله ها و حلقات پراگنده را منسجم نموده و بار دیگر تحت چتر جمعیت در بیاورد، از امکان بعید نیست. هکذا عبدالحکیم مجاهد، سفیر سابق طالبان در واشنگتن که اخیراً از لست سیاه سازمان ملل متحد حذف گردیده و یکی از فعالین گروه طالبان به شمار می رود، ترجمان و وسیط خوبی میان دولت و طالبان شده می تواند. بهمین منوال مولوی عطاء الله لودین سابق فرمانده حزب اسلامی و عضو ولسی جرگه که الآن نیز عضویت شورای رهبری حزب اسلامی (داخل حاکمیت) را دارد، در برقراری روابط شورای صلح با حزب اسلامی (مخالف دولت) همکاری کرده میتواند.

بهر حال شورای عالی صلح پس از تشکیل، در روشنی اهداف و انگیزه های وجودی اش، بکار خود آغاز کرد و پس از طرح برنامه های ضروری برای پیشبرد کارهایش، نخست تیم های کاری و هیئت اداری اش را ساخت، سپس هیئت هایش با مسافرت به بعضی ولایات کشور، نظریات و پیشنهادات مردم را جلب کرد و به تشکیل شورا های ولایتی صلح اهتمام ورزید. بعدتر در جستجوی برقراری روابط با مخالفان مسلح برآمد تا گفتگوهای صلح را با آنان آغاز نماید، از آنجائیکه مخالفان مسلح آدرس مشخصی ندارند و بنابر درج بودن نام های سران طالبان و حزب اسلامی در لست سیاه، آنها بصورت علنی آماده گفتگو نیستند، شورای عالی صلح تصمیم گرفت که هیئت هایش را به کشورهای که به نحوی از انحا در قضایای افغانستان دخیل هستند و زمینه تفاهم و مذاکره با مخالفان را مساعد کرده می توانند، بفرستد.

سفر هیئت شورای صلح تحت ریاست استاد ربانی به پاکستان، اولین اقدام عملی شورا بود که به خارج از کشور صورت گرفت. در آن سفر هیئت دید و وادیدهای مفصلی با مقامات رسمی دولت پاکستان و سران احزاب سیاسی آن کشور و بعضی مخالفان دولت افغانستان داشتند و در جریان آن هیئت اهداف و نیات خود را به مقامات پاکستانی و مخالفان دولت اظهار داشت و بالمقابل نظریات و پیشنهادات آنها را شنیدند تا در روشنی آن پلان کار و اقدامات بعدی خویش را عیار سازند. به دنبال آن هیئت های شورای صلح به کشورهای ترکیه و عربستان سعودی مسافرت کردند که علایق نزدیکی با افغانستان دارند و هر دو کشور نقش قابل توجهی در تأمین صلح و ارضای مخالفین مسلح دارند. چنانچه دولت ترکیه اعلان نمود، انقره حاضر است بخاطر تحقق پروسهٔ صلح، برای مخالفان دولت افغانستان اجازه گشایش دفتر در شهر استانبول را بدهد و همچنان عربستان سعودی، با قبول میزبانی کنفرانس صلح میان دو طرف، اظهار آماد گی نمود.

سفر دوم سید یوسف رضا گیلانی صدراعظم پاکستان به کابل که در ترکیب آن رجال لشکری و کشوری آن کشور شامل بود

و توافق آن ها با حامد کرزی بر سر تشکیل کمیسیون مشترک صلح، گام مهمی بود که در جهت تسریع پروسهٔ صلح برداشته شد، بالاخص ترکیب هیأت مزبور که در رأس آن صدراعظم آن کشور و در رأس هیئت افغانستان استاد ربانی قرار گرفتند و اعضای کمیسیون مشترک از هر دو طرف، ذوات برجستهٔ نظامی و سیاسی هر دو کشور، امیدهای مردم را برای رسیدن به یک صلح پایدار قوی تر می سازد.

در همین حال و هوای که پروسهٔ صلح جان می گیرد و عناصر اصلاح طلب و خیرخواه در داخل و خارج برای برقرار صلح و آرامش کار می کنند، متأسفانه نداهای مخالف اصلاح نیز به گوش می رسند و بعضی از هموطنان ما با وجود پذیرش مصالحه در پرنسیب و عقیده، در عمل مخالفت نشان می دهند و مصرانه در پی اخلال کردن وضعیت و تزریق ذهنیت منفی برای سبوتاژ کردن پروسهٔ صلح هستند. منادیان مخالف صلح اگر بقایای رژیم های چپی گذشته (که اکنون در زباله ریخته شده اند) باشند، چندان جای نگرانی و تأسف نداشت، ولی اگر این منادیان مخالف از جمله گروه های جهادی و احزابی باشند که همین اکنون خویش را در خیر و صلاح مملکت سهیم می دانند، واقعاً جای نگرانی و تأسف است.

افغانستان در طول تاریخ بارها آماج حملات و تهاجمات زورگویان و کشور گشایان قرار گرفته و کشور ما در جریان این فراز و فرودها، سالیانی هم در اشغال لشکرهای بیگانه باقی مانده، ولی فرزندان اصیل و با غیرت این خطهٔ تاریخی، یوغ اسارت و اشغال بیگانگان را در دراز مدت به گردن نگذاشته و با راه اندازي قیام ها و انقلاب ها، اشغالگران و ایادی آنها را مضمحل و نابود کرده اند. در تمامی قیام ها و مجاهدت های آزادیخواهانه، نقش دینداری و آزادمنشی، در صدر انگیزه های غازیان و مجاهدان افغان قرار داشته است.

مخالفت با صلح و در شرایط فعلی، مخالفت با استقلال و آزادگی افغان ها است، مخالفت با تمامیت ارضی و اصالت تاریخی ملت است، مخالفت با پروسهٔ صلح، در حقیقت قبول ادامه حضور نیروهای خارجی میباشد که بدون شک این وضعیت با ویژه گی ها و خصایل آزادگی و نجابت ملت افغان، همخوانی ندارد. افغان ها پس از ده سال همکاری نیروهای آیساف و ناتو، ضرورت دارند که بالاخره خود شان امنیت کشور شان را بدست بگیرند. تحت الحمایه بودن با استقلال و آزادی منافات دارد، به همین سبب است که اولیای امور به انتقال مسؤولیت های امنیتی از نیروهای خارجی به نیروهای داخلی تأکید دارند و این سلسله تا دو ماه دیگر آغاز می گردد.

انتقال مسؤولیت های امنیتی ایجاب می کند که جنگ فروکش کند و البته جنگ فروکش نمی کند تا آنکه صلح تأمین گردد و جنگ خاتمه یابد. پس لازم است که همه با یکصدا شعار صلح سر بدهیم و تحت شعار وحدت ملی، برای اعادهٔ مجدو عظمت پارینهٔ کشور عزیز خود افغانستان تلاش کنیم. حرص، آز، جاه طلبی و خود خواهی را کنار بگذاریم و آرمان شهدا و رزمندگان صدیق وطن را تحقق ببخشیم، افغانستان مأمن و مأوای همه افغان ها است. هیچ فرد، گروهی و قومی به تنهایی بر این سرزمین حکومت کرده نمی تواند. افغانستان مستقل، واحد، اسلامی و نیرومند فقط با صلح، رواداری و همدیگر پذیری عینیت پیدا می کند، پس بیائید که دست بدست هم داده پروسهٔ صلح را تقویه کنیم و از سبوتاژ آن دست برداریم.

امریکا اسامه بن لادن ربښتونې ثابت کړ

شهید مزار پیدا نشي. چې تر ډېره به یې مسلمانان یاد او پر مزار به یې خلک راټولېږي امریکایانو د اسامه بن لادن مړی ددوی په وینا له هوا نه سمندر ته راوغورځاوه چې نوره نو د اسامه د مرګ او ژوند کیسه پای ته ورسېږي، خو امریکا په دې نه پوهېږي چې د اسامه د مړینې سره به د ده د ژوند کیسه ختمه شي خو دې مرګ سره به ډېرې نورې کیسې پیل شي.

امریکایانو د اسامه مړی د سمندر چپو ته سپارلو سره به تاریخ لیکونکي دې خبرې ته اړ باسي چې ولیکي د وخت یو نړېوال زبر ځواک د یو مړي د جسده څومره وېرېده، د اسامه د مړي په غورځېدو سره شاید امریکا د خپل ذلت د پټېدو کوشش کوي، دوی غوښتل چې اسامه بن لادن ژوندی ونیسي خو په دې کار کې پاتې راغله، اسامه به همیش ویل چې امریکا به یې هېڅکله او هېچېرې ژوندی ونه نیسي.

د اسامه دا ډول مړینه د امریکایانو لپاره یوه ستره لاسته راوړنه نه ده، بلکې تر اوږدې او ملا ماتوونکې اقتصادي جګړې سره سره امریکا او ملګري یې په دې ونه توانېده چې اسامه بن لادن ژوندی ونیسي او د محاکمې میز ته یې راکش کړي او په رښتیا سره خپلې هغه ادعاوې چې پر نوموړي یې لرلې نړېوالو ته ښکاره کړي.

امریکا غوښتل چې اسامه بن لادن د صدام حسین په څېر محاکمه کړي، خو دا خوب یې پوره نه شو. امریکایي مقامات وایي چې اسامه هېڅ ډول مقاومت نه دی کړی بلکې مونږ په

کې له امریکایي نظامي اډو راځي او د پاکستان په یوه سیمه کې داسې کامیاب عملیات کوي له دې عملیاتو داسې ښکاري چې امریکایي قواوې د پاکستان نور مهم اهداف لکه د اټومي چارو پلانټ او ورته نور ځایونه هم په نښه کولې شي. پاکستان په دغه

اور کې پخپله هم سوزېدلې دی. حامد میر زیاتوي ما امریکایي ژورنالیست ته وویل تاسو د اسامه بن لادن هغه ادعا رښتونې کړه چې ویل به یې امریکا د پاکستان ملګری نه بلکې خپلو اهدافو ته تر رسېدو پورې ترې کار اخلي. بله دا چې د امریکا د استخباراتي شبکې CIA مشر لېون پېنټا په څرګندو ټکو کې وویل

وایي چې دا عملیات د پاکستان او امریکا لپاره یوه ستره کامیابي ده، د سیاسي شنونکو په اند دا عملیات د پاکستان لپاره یو سبق دی او هغه په دې مانا چې پاکستان په سیمه کې د یو اټومي طاقت سره سره بیا هم یو محفوظ ملک نه دی، لکه څنګه چې امریکا د اسامه بن لادن ځای ځاېګی په نښه کړ او له منځه یې یوړ، همدا ډول کولې شي د پاکستان اټومي پلانټ او ورته مهم تأسیسات له منځه یوسي او لېرې نه ده چې هندوستان هم دا غوښتنه وکړي چې که چېرې پاکستان داؤد ابراهیم و حافظ سعید چې په هندوستان کې په بمي برېدونو تورن دي هند ته ونه سپارې هغوی به هم دا ډول عملیات وکړي. په ښکاره توګه خو د مئ پر دویمه داسې یو څوک له منځه ولاړ چې پاکستاني حکومت یې هم له منځه وړلو دعوې کولې او د پاکستان په اند دوی یې هم د زیاتو ناامنیو سره لاس او ګرېوان کړي و خو ددې کس تر مړینې وروسته به پاکستان خپل ځان پر امن وګڼي او په پاکستان کې به د القاعده او ددوی په وینا د ترهګرو ځالې له منځه یوسي او هغه ګواښونه چې د پاکستان د امنیت لپاره متوجه دي ختم شي او که نه؟

ددې پېښې په رابطه د پاکستان د باندنیو چارو وزارت داومنله چې په دې عملیاتو کې نه زموږ د سیاسي مشرانو او نه هم له فوځي چارواکو سره تفاهم شوې دی، د باندنیو چارو د وزارت دا څرګندونې د پاکستان د سالمیت پر وړاندې یو ستر ګواښ وړاندوینه کوي او دا ثابتوي چې د پاکستان فوځ ددې وړتیا نلري

خپله ووژلو، آیا دا خبره د منلو ده؟ دا ډول خبرې د یو عقل من انسان لپاره د منلو نه وي او دا ډول څرګندونې پر خپل ځان ملنډې وهل دي. او بله دا چې د اسامه بن لادن جسد بحر ته تر غورځولو وروسته اوس امریکا د پېریانو سره په جګړه بوخته شوه. څکه چې سر نشته او سر سر شته.

چې که چېرې موږ له دې عملیاتو پاکستاني واکمن خبر کړي وې، شاید اسامه هم خبر شوې وې او نن موږ ددومره سترې لاسته راوړنې شاهدان نه وې. د CIA د مشر دا ډول وینا د پاکستاني ولس او حکومت پر مخ د څپېړې تر ګوزاره کم نه دی، خو بیا دا هم

چې د بهرنیو هوایي پروازونو او عملیاتو مخنیوې وکړي، په څرګنده توګه خو په دې عملیاتو کې د اسامه بن لادن د ژوند کیسه ختمه شوه خو یوه بله کیسه پیل شوه او هغه کیسه د پاکستاني قوم او فوځ پرخلاف یوه نوې کیسه ده.

د ایبټ آباد په عملیاتو کې د اسامه یو نږدې ملګرې هم نیول شوې ویل کېږي چې دا کس هغه څوک و چې پر امریکایي فوځیانو یې ډزې کولې، نو د یو داسې کس نیول تر هغه چا ډېر ګران وي چې غېر مسلح وي، نو دوی ولې اسامه ژوندی ونه نیوو. امریکایي مقامات دا خبره هم کوي چې اسامه بن لادن په ښونه کې د خپلې مېرمن سره یوازې او غیر مسلح و، د اسامه یمنۍ مېرمن وایي چې په همدې ښونه کې ورسره وه وایي کله چې زه په ډزو راوېښه شوم نو سمدستي پر پښه ولګېدم او بې هوښه شوم، د اسامه کوچنۍ لور صفیه د خپلو سترګو لېدلې حال پاکستاني چارواکو ته داسې ویلې چې وروسته رسنیو هم خپور کړ صفیه وایي ما ولېدل چې امریکایانو زما د پلار جسد په ډېره بې رحمي او د ټولو انساني نورمونو پرخلاف په زینو کې لاندې کش کاوه، دا وایي چې دا مهال زما پلار خپل ځان رب ته سپارلی و.

د پاکستان یو نامتو ژورنالیست حامد میر وایي چې د همدې ورځې په سبا زما یو امریکایي ژورنالیست ملګري له ما وپوښتل چې پاکستاني ولس ددې پر ځای چې د خوشحالی اظهار وکړي دا عملیات د پاکستان پر حریم او آزادۍ تېری ګڼي، آیا دوی نه پوهېږي چې هغه کس چې په دې پېښه کې له منځه تللې د یو زیات شمېر بې ګناه انسانانو قاتل و، حامد میر وایي ما هغه ته وویل دا ببله خبره ده چې اسامه څوک و او څه یې کول؟ خو پاکستاني ولس اوس په دې پوهېږي چې امریکا د پاکستان په نیت شک لري او داسې انګېرې چې امریکایي طیارې چې په افغانستان

په سلو کې ۵۶ امریکایان غواړي ...

په سپټمبر کې دغه فیصدي ۴۳ وه چې اوس ۱۳نور امتیازه ورزیات شوي دي.

په سروې کې د ۱۰۰۰ پوښتل شوي امریکایان ۳۰ فیصده یې د مې پر پنځمه او ۶ فیصده تر اوسه د عسکرو د وتلو لپاره د هر ډول مهالوېش مخالفت کوي، ۱۵ فیصده خلک وایي چې نه پوهېږي څه ووایي.

د ولسمشر بارک اوباما د ګوند غړي د ځواکونو د ایستلو کلک پلویان دي، په سلو کې ۷۰ ډیموکراتان دېته لېواله دي چې ژر تر ژره دې ځواکونه وایستل شي یا دې د یوه کال په دننه کې د دوی د وتلو لپاره یو مهالوېش وټاکل شي.

د اسامه بن لادن تر وژل کېدو وروسته دا د راسموسن د اداري لومړی سروې ده. خو خلک په دې باور دي چې پر دغسې نظرپوښتنو او سروېګانو زیات باور څکه نه دی په کار چې د امریکا او نورو متحدو هېوادونو خلک د افغانستان له حقایقو په بشپړ ډول خبر نه دي.

علیه الظواهري وملا محمد عمر ...

نخست وزیر پاکستان روز گذشته، هنگام سخنرانی به پارلمان آن کشور به علت عملیات انجام شده در ایبت آباد که در نتیجه آن اسامه بن لادن کشته شد؛ احتجاج نموده و از امریکا خواسته است، تا از پاکستان عذر خواهی نماید.

اما جی کارنی سخنگوی قصرسفید، روز گذشته در یک نشست خبری گفت که امریکا کدام کار نادرستی انجام نداده است که از آن معذرت بخواهد.

موصوف گفت که رئیس جمهور بارک اوباما، سخنرانی نخست وزیر پاکستان را شنیده و در مورد آن غور میکند.

وی علاوه نمود که امریکا از اینکه اسامه در پاکستان بود سخت نگران است و بعضي سوالات را از پاکستان مطرح نموده است، که آنها باید پاسخ بگویند.

جرمني له پاکستانه د بن لادن ...

توانېدلی و چې دومره اوږده موده اسلام اباد ته نژدې پټ شي.

ویستروېلي د امریکا د ولسمشر بارک اوباما د هغو څرګندونو ملاتړ وکړ چې د پاکستان له چارواکو باید تحقیق وشي څو هغه شبکه مالومه شي چې په ایبټ اباد کې یې د اسامه بن لادن ملاتړ اوساتنه کوله.

د جرمني د بهرنیو چارو وزیر دا هم وویل:« جرمني غواړي په دې ډاډه شي چې په پاکستان کې د بن لادن ملاتړ په دولتي کچه نه دی شوی.

د مې په لومړۍ نېټه د امریکا د خاصو ځواکونو له لوري په ایبټ اباد کې د اسامه بن لادن له وژل کېدو وروسته په دې باب پوښتنې مخ په ډېرېدو دي چې د پاکستان استخباراتو یا آی ایس آی د بن لادن د استوګنې له ځای څخه خبر و او د دې اداري له ملاتړه پرته بن لادن نه شوای کولی پنځه یا شپږ کاله په یوه داسې خوندي پوځي سیمه کې واوسي.

د پاکستان صدراعظم نن د تروریزم په وړاندې په مبارزه کې د خپل هیواد د دریغ کلکه دفاع وکړه او دا تورونه یې رد کړل چې ګنې پاکستان دالقاعده شبکې مشر ته د پټېدو لپاره ځای ورکړی و.

د اسامه پر سر اعلان شوی...

شوي، چې دغه پیسې به هېچا ته نه ورکول کېږي. سرچینې زیاته کړه، چې دغه انعام د هغه چا لپاره اعلان شوی و، چې د اسامه د نیولو یا وژلو په اړه راپور ورکړي.

خو سپینې ماڼۍ ویلي، چې په ایبټ اباد کې د هغه د شتون په اړه هېچا معلومات ورنه کړل او د هغه د وژلو پلان او عملیات د دوی خپلو ځواکونو او استخباراتو ترسره کړل.

د اسلامي تاریخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(پنځلسمه برخه)

س ۲۹۲: چا لومړی قرآن راټول کړ؟

ځ: حفص بن عمر دوري او ویل کېږي چې هارون بن موسی و.

س ۲۹۳: چا د لومړي ځل لپاره د اسناد په اساس د قرآن په تفسیر کې کتاب ولیکه؟

ځ: مالک بن انس رضي الله عنه.

س ۲۹۴: چا لومړی د قرآن احکام په نوم کتاب ولیکه؟

ځ: امام شافعي رضي الله عنه.

س ۲۹۵: چا د لومړي ځل لپاره اوه قراء تونه (القراءات السبع) په فلسطین کې تدریس کړ؟

ځ: ولید بن عبد الرحمن الجرشي.

س ۲۹۶: چا د لومړي ځل لپاره اوه قراء تونه (القراءات السبع) په جامع دمشق کې تدریس کړ؟

ځ: هشام بن اسماعیل مخزومي.

س ۲۹۷: کله حدیث په رسمي توګه تدوین شول؟

ځ: حدیث په رسمي توګه د عمر بن عبد العزیز په خلافت کې تدوین شول، او له دې نه مخکې د پیغمبر علیه السلام په وخت کې ځنې صحفي لکه د ابوهریره صحیفه چې همام لیکلې وه.

س ۲۹۸: چا لومړی حدیث تدوین کړل؟

ځ: ابن شهاب زهري، او دا هم ویل شوي چې ابوبکر محمد بن عمرو بن حزم.

س ۲۹۹: چا لومړی په (مختلف حدیث) کې کتاب لیکلی؟

ځ: امام شافعي رضي الله عنه.

س ۳۰۰: چا لومړی پ (مختلف حدیث) کې خبرې کړې؟

امام شافعي رضي الله عنه.

س ۳۰۱: چا لومړی په علوم حدیث کې کتاب لیکلی؟

ځ: رامهرمزي.

س ۳۰۲: چا د لومړي ځل لپاره حدیث اندلس (هسپانیې) ته ننویستل؟

ځ: صعصعه د سلام دمشقي زوی او دا د دوهم قرن په اخر کې وه.

س ۳۰۳: چا لومړی د امام مالک سره فقه و ویله؟

ځ: داود د سعید زوي او د ابي زید قرشي لمسي.

س ۳۰۴: چا لومړی په مصر کې د فقه علم رایج کړ؟

ځ: یزید د ابي حبیب زوی.

س ۳۰۵: چا لومړی د فقه علم مصر ته داخل کړ؟

ځ: عبد الرحیم د خالد جمحي زوي.

س ۳۰۶: چا لومړی د صرف علم جوړ کړ؟

ځ: معاذ د مسلم هراء زوي.

س ۳۰۷: چا لومړی د عروضو علم جوړ کړ؟

ځ: خلیل د احمد فراهیدي زوي.

س ۳۰۸: چا لومړی د بدیع په علم کې کتاب ولیکه؟

ځ: عبد الله د معتز زوي.

س ۳۰۹: چا لومړی د بدیع علم په بدیع سره ونوماوه؟

عبد الله د معتز وزي.

س ۳۱۰: چا لومړی د (جناس) نوم کشف کړ؟

ځ: عبد الله د معتز زوي.

س ۳۱۱: چا لومړی په علم معاني او علم بیان کې کتاب ولیکه؟

ځ: شیخ عبد القاهر جرجاني.

س ۳۱۲: چا لومړی په کتابونو تاریخ ولیکلو؟

ځ: یعلا د أمیه یمني زوي، د عمر رضي الله عنه په خلافت کې.

س ۳۱۳: چا لومړی په قلم خط و لیکلو؟

ځ: عسکري د اوایلو په کتاب کې یاده کړې چې ادریس علیه السلام لومړی شخص و چې په قلم یې خط ولیکلو.

س ۳۱۴: چا لومړی د رسم خط او خط د قواعدو په هکله خبرې کړې؟

ځ: برمکي محرر (أحْوَلْ).

س ۳۱۵: چا لومړی د طب په علم کې فکر و کړ؟

ځ: ادریس علیه السلام او ویل شوي چې افریدون او ابقراط هم یاد شوی.

س ۳۱۶: چا د سهر پر محال دا و ویل: (یحمد القوم السري) خلک د شپې د سفر صفت کوي؟

ځ: خالد بن ولید، او دا یو متل وګرځید.

س ۳۱۷: هغه لومړی جمله چې ابراهیم علیه السلام اور ته د ور غورځیدو په وخت کې و ویله کومه وه؟

ځ: (حسبي الله و نعم الوکیل) دا لومړی جمله وه چې ابراهیم علیه السلام اور ته د ور غورځیدو په وخت کې و ویله.

س ۳۱۸: چا لومړی غاړیوتل و کړل؟

ځ: ابراهیم علیه السلام، او دا ځکه چې اسلام د ورورولی، میني او محبت دین دی او غاړیوتل د ورورولي میني او محبت د علامو نه دي.

(نور بیا)

افغانستان کې د تیلیسمیا (Thalassemia) مرګونې ناروغی مخ په زیاتېدو ده

د تیلیسمیا د نړیوالې ورځې په مناسبت د افغانستان د ژوند ژغورنې د ادارې (LSOA) مشر ډاکټر عطاء الرحمن فطرت په یو مطبوعاتي بیان کې د تلیسمیا ناروغانو او ددوی د کورنیو سره د همدردۍ او همغږي څرګندونه کړیده. نوموړی زیاتوي چې تر اوسه د ټول هیواد په سطحه داسې کوم صحي مرکزوجود نه لري چې د وینې د وژونکو ناروغیو (تلسیمیا او هیموفیلیا) درملنه او مخنیوې په کې ترسره شي

ډاکتر عطاء الرحمن فطرت

نو له دې امله په افغانستان کې په تلیسمیا اخته ماشومانو صحي حالت ډیر بوړنوونکی او د اندیښنې وړ دی چې اکثره ناروغان په کې د تشخیص او درملنې وړاندې خپل ژوند له لاسه ورکوي، نوموړی زیاتوي چې متاسفانه نه تر اوسه افغان دولت او نه هم غیر دولتي ادارو په دې اړه د پام وړ کار نه دې کړې، اکثره ماشومان د وینې او نورو ضروري درملو د نشتوالي له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي، د ژوند ژغورنې د ادارې مشر ډاکټر فطرت وايي: چې د تلیسمیا ناروغي په افغانستان کې مخ په زیاتیدو ده چې دده په اند ستر لاملونه یې په خپلو خپلوانو کې ودونه کول، د صحي تعلیماتو او د یادې ناروغی په اړه د معلوماتو نشتوالي دی نوموړې د تلیسمیا د نړیوالي ورځې په موقع په تلیسمیا اخته ماشومانو او ددوی کورنیو سره د همدردی سربیره د ازیرې هم ورکوي چې ډیر ژر به ان شاء الله په کابل او جلال اباد کې د وینې د وژونکو ناروغیو (تلیسمیا او هیموفیلیا) د تشخیص ، تداوی او کنترول مرکزونه پرانیزي.

ډاکټر فطرت وايي: چې په دې هکله مو وار دمخه د افغان دولت او نورو نړیوالو فدراسونونو سره خبرې اترې کړیدي. د افغانستان لپاره د ژوند ژغورنې د موسسې مشر زیاتوي چې نوموړې اداره یوه کاملا ازاده غیر دولتي او غیر انتفاعي خیریه موسسه ده چې د افغان دولت او د وینې د ناروغیو نړیوالو ادارو سره ثبت او راجستر ده چې هدف یې په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د وینې د مرګوني ناروغیو (تلیسمیا او هیموفیلیا) د تشخیص ، تداوی او مخنیوي په اړه مبارزه او دیادو ناروغانوسره د وینې سربیره د نورو طبي اسانتیاوو برابرول دي.

ډاکټر فطرت د افغان دولت ، ملي تجارانو، بډایه هیوادوالو او د خیرښیګڼې تنظیمونو څخه هیله څرګنده کړه چې دوی په دې سپیڅلي بهیر کې یوازې پرېنږدي او خپلې مادي او معنوي مرستي ورسره شریکې کړي تر څو د تلیسمیا د مخنیوي او د دغه ګلالیو ماشومانو د ژوند شمع بله وساتل شي کوم چې د ژوند او مرګ په کشمکش کې شپې او ورځې سبا کوي.

د تلیسمسا د نړیوالې ورځې په مناسبت ډاکټر فطرت په ځوانانو غږ وکړ چې دغه ناروغانو ته د وینو په عطیه کولو کې برخه واخلي څکه چې دغه معصوم ماشومان د سالمو انسانانو وینې ته سترګې غړوي او دا یې د ژوند د تیرولو تر ټولو ستره هیله ده.

نفوس افغانستان از سوی اداره‌ء احصاییه مرکزی اعلان شد

کابل، رسانه ها:

اداره‌ء احصاییه مرکزی افغانستان نشریه‌ء تخمین نفوس سال ۱۳۹۰ را منتشر کرده است. مسوولین این اداره گفته اند، در محاسبه‌ء که در مورد نفوس افغانستان صورت گرفته و در این نشریه گنجانیده شده است، از فورمول های بین المللی استفاده گردیده است.

مسوولین اداره‌ء احصاییه مرکزی افغانستان می گویند: به اساس محاسبه که به تازه گی صورت گرفته نفوس افغانستان در سال ۱۳۹۰ به بیست شش و نیم ملیون نفر می رسد.

این اداره محاسبات سال ۱۳۹۰ را که گفته می شود، با استفاده از فورمول های معیاری بین المللی تخمین شده است به روز سه شنبه منتشر کرد.

عبدالرحمن غفوری رییس اداره‌ء احصاییه مرکزی می گوید: فورمول که نفوس کنونی افغانستان به اساس آن روشن شده، نشان می دهد که تخمین ارایه شده ممکن است با نفوس واقعی کشور نزدیک باشد.

وی به ادامه گفت:

"تخمین ما چقدر به واقعیت نزدیک است یا نیست، همین لحظه مشکل است که من برای شما جواب بگویم. تا حدود که همین فورمول اجازه می دهد، بسیار به واقعیت نزدیک است. شاید ۲۶ ملیون نفوس مطابق نفوس که در کشور ما وجود دارد، نباشد اما جز این راه دیگر نداریم و همین تنها راه است که ما پیش برده ایم و در عین حال غیر از ما کسی دیگر نمی تواند این تخمین را انجام دهد، بخاطریکه قانون به کسی دیگر اجازه چنین کار را نمی دهد."

این احصاییه نشان می دهد که از جمله‌ء ۲۶ ملیون نفوس کشور ۶. ۱۳ ملیون آن را مردان و ۹. ۱۲ ملیون آن را زنان تشکیل می دهند.

در حال حاضر ملیون ها افغان در بیرون از افغانستان به سر می برند.

به گفته مقامات اداره‌ء احصاییه مرکزی افغانستان، مهاجرین افغان که در کشور های همسایه پاکستان و ایران و سایر کشور ها به سر می برند، شامل این احصایه نمی شود.

رییس اداره‌ء احصاییه‌ء مرکزی افغانستان می گوید:

"معمولاً ما مهاجرین را شامل نفوس شماری نمی سازیم. نفوس بخاطری حساب می شود که ما بفهمیم که برای همین نفوس چه کرده می توانیم از این لحاظ نفوس که در بیرون است آنرا حساب نمی کنیم چون نمی دانیم که آیا آنها دوباره بر می گردند یا نمی گردند."

این در حالیست که گفته می شود بیشتر از پنج ملیون افغان هم اکنون در ایران و پاکستان به سر می برند.

با این که چندین سال از تاسیس اداره‌ء احصاییه می گذرد، اما تا هنوز هم این اداره قادر نشده است تا سرشماری دقیق را در کشور انجام دهد.

به گفته مسوولین اداره‌ء احصاییه مرکزی، در حال حاضر تخمین ها به اساس سرشماری نفوس که در سال ۱۳۵۸ صورت گرفته بود ارایه می شود.

به اساس ارقام ارایه شده، بیشتر از سه دهه شده است که اداره‌ء احصاییه مرکزی افغانستان از فورمولی که به اساس تخمین نفوس کشور را محاسبه می کند، استفاده می نماید.

مقامات اداره‌ء احصاییه می گویند: مشکلات امنیتی یکی از چالش های عمده است که مانع اجرای برنامه های سرشماری در کشور می شود.

اما کارشناسان افغان می گویند: چون هدف از تاسیس اداره‌ء احصاییه این است که بخاطر پلان گذاری های بزرگ در کشور سرشماری دقیق و تازه را در افغانستان انجام دهد، این اداره مکلف است که با ارزیابی اوضاع جاری در کشور راه های مناسب را جستجو کند تا زمینه شمارش نفوس در افغانستان فراهم گردد.

مقامات امریکایی از حملات...

مقامات امریکایی روز دوشنبه گفتند که رفت و آمد مامورین خود را به مناطق نا آرام جنوب افغانستان محدود ساخته اند.

مقامات امریکایی بعد از برخوردهای دو روزه در کندهار، در مورد حملات دیگر هشدار داده اند.

در حملات اخیر بر کندهار حد اقل ۲۵ حمله کننده طالبان، دو پولیس و یک نفر ملکی کشته شده و در حدود ۴۰نفر دیگر زخمی شده اند.

قوای افغان و بین المللی نگفته اند که در این برخورد ها چند تن از طالبان را دستگیر کرده اند، ولی یک چیز واضح است که در این حملات به ملکیت های مردم ضرر بزرگ وارد شده است.

طالبان گفته بودند که بیش از ۱۰۰جنگجوی آنها در یک عملیات برای تصرف شهر کندهار دست داشتند. طالبان بعد از آن که مرگ اسامه بن لادن را تایید کردند به این حمله دست زدند و قبل از این هم گفته بودند که یک عملیات بهاری را تحت نام بدر آغاز کرده اند.

در یک اعلامیه‌ء سفارت امریکا در کابل در رابطه با هشدار های امنیتی آمده است که آنها در مورد حملات در بعضی از نقاط ولایت هلمند معلومات مشخص بدست آورده اند.

در این اعلامیه در مورد نوعیت خطر، جزیات ارایه نشده است. با نشر این اعلامیه به امریکایی های که در ولایت هلمند مستقر اند گفته شده که بخاطر این تهدیدها که موسسات دولتی در مرکز ولایت هلمند لشکرگاه و ولسوالی مارجه به آن مواجه می باشند، از سکونت گاه های خود بیرون نشوند. لشکرگاه یکی از شهر های می باشد که قرار است در ماه جولای امسال مسوولیت امنیتی آن به قوای افغان انتقال داده شود.

حامد کرزی در کنفرانس کشور های...

بدست می آورند.

رییس جمهور افغانستان حامد کرزی در سخنرانی خود در این کنفرانس گفت: چهل سال از زمانی می گذرد که سازمان ملل متحد کشورهای کمتر انکشاف یافته را معرفی کرد که در این مدت تعداد آنها از ۲۵ به ۴۸ رسیده و نزدیک به یک ملیارد انسان با فقر، گرسنگی، بی سوادی و امراض در این کشورها دست به گریبان می باشند.

به گفته رییس جمهور افغانستان، این ارقام نشان می دهد که اهداف ملل متحد در بهبود این کشورها برآورده نشده و تعهدات کمک در این راستا کافی نبوده است.

رییس جمهور افغانستان افزود، سه دهه جنگ و مداخلات خارجی، مشکلاتی عمیق را بر مردم افغانستان تحمیل کرده و افغانستان را با مجموعه‌ء از دشواری های پیچیده روبرو ساخته است، از جمله تروریزم، جرایم سازمان یافته فرامرزی، مشکلات اقتصادی، اجتماعی، تولید و قاچاق مواد مخدر و نهادهای ضعیف اداری که این مشکلات روند عادی ساختن زندگی و رشد اقتصادی را به کندی مواجه ساخته است.

رییس جمهور افغانستان در بخش دیگر سخنرانی اش در کنفرانس کشورهای کمتر انکشاف یافته در استانبول در مورد دست آوردهای افغانستان نیز توضیحات داده گفت: افغانستان گسترش همکاری منطقوی را به عنوان عامل اصلی رشد اقتصادی خود برگزیده است. به گفته او تجارت افغانستان با کشورهای همسایه که سالانه به دو نیم ملیارد دالر می رسد نشان دهنده تعهد قوی افغانستان برای تجارت آزاد در منطقه می باشد و همین گونه افغانستان با تمام سازمان ها و اجتماعات منطقوی پیوسته و خود را برای تحقق پروژه های انرژی در منطقه نیز متعهد می شمارد.

حامد کرزی رییس جمهور افغانستان اظهار داشت، تجارب چند دهه‌ء گذشته نشان داده است که تعهدات و وعده های خشک و خالی سبب انکشاف پایدار نمی شود و اهداف کنفرانس استانبول هم تنها می تواند از طریق همکاری موثر و صادقانه جامه عمل بپوشد. بنابرین همه باید برنامه عمل کنفرانس استانبول را در ستراتیژی انکشاف ملی خود بگنجانند.

این کنفرانس هر ده سال برگزار می شود و در آن مشکلات کشورهای کمتر انکشاف یافته و زمینه سازی برای حل این مشکلات مورد بررسی قرار می گیرد.

در چهارمین کنفرانس این کشور ها، افغانستان بحیث معاون کنفرانس و معاون دارالانشاء آن انتخاب شد.

سازمان ملل متحد ۴۸ کشور جهان را در فهرست کشورهای کمتر انکشاف یافته جا داده است که در آن ۳۳ کشور افریقایی، ۱۵ کشور آسیا پاسیفیک و یک کشور امریکای لاتین شامل می باشند.

غرب جنگ افغانستان را همچنان...

به حساب می‌آید. و من خوش‌بین هستم که نیروهاي امریکا و ناتو از جدول زماني ارائه شده براي انتقال مسئولیت هاي امنیتي به نیروهاي افغان از سال جاري تا سال ۲۰۱۴ پیروي خواهند کرد.

بدنبال اعلام خبر کشته شدن "اسامه بن‌لادن" سرکرده گروه تروریستي القاعده، درخواست‌هاي زیادي بویژه از جانب برخي مقامات امریکایي در خصوص پایان جنگ افغانستان مطرح شده است، اما کاخ سفید همچنان اصرار دارد که جنگ افغانستان مطابق زمانبدي اعلام شده ادامه داشته باشد؛ جنگي که امریکا حدود ۱۰ سال پیش به بهانه "جنگ علیه ترور " و دستگیري بن‌لادن در افغانستان آغاز کرده بود.

بسیاري کارشناسان مسائل سیاسي بر این باورند که عدم تمایل امریکا به خروج از افغانستان حتي پس از اعلام خبر کشته شدن بن‌لادن از این امر حکایت دارد که جنگ علیه ترور و دستگیري بن‌لادن تنها بهانه ای بیش نبوده تا واشنگتن از این طریق برخی اهداف دیگر خود را محقق سازد.

چین په افغانستان کې د سولې له بهیر نه خپل ملاتړ اعلان کړ

آزادی راډیو:

د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر زلمي رسول چې په رسمي سفر چین ته تللی دی د غویي په ۲۰ مه د هغه هیواد د بهرنیو چارو له وزیر سره وکتل. په پیکنګ کې د افغانستان د سفارت مسوولین وایي، چې د بهرنیو چارو وزیر به نن او سبا له یو شمېر نورو چینایي مقاماتو سره په افغانستان کې د بیارغونې او د سولې د ټینګښت لپاره پر روانو پروګرامونو خبرې وکړي.

د چین حکومت ویلي، چې د افغانانو په رهبری د سولې د ټینګښت له ټولو پروګرامونو ملاتړ کوي. په پیکنګ کې د افغانستان د سفارت لومړی سیاسي مرستیال وایي، د چین حکومت په سیمه کې د یوه ستر هیواد او عمده سیاسي قدرت په صفت د افغانستان او پاکستان د اړیکو د ښه کیدو ملاتړ کوي.

هارون نجمپور نن سهار له ازادي راډیو سره په مرکه کې وویل، چې د بهرنیو چارو وزیرنن د چین د صدراعظم له مرستیال او د دې هیواد د بهرنیو چارو له وزیر سره وکتل او په دوه اړخیزو روابطو یې خبرې وکړې.

"د دې لیدنو کتنو هدف په دوه اړخیزو اړیکو، په افغانستان کې له بیارغونې سره د چین همکاریو او د سترو سیمزو مسایلو د حل لپاره د چین پر رول خبرې کول دي."

د ښاغلي نجم پور په وینا، د بهرنیو چارو وزیر له چینایي مقاماتو غوښتنه کړې چې خپلې سترې کمپنی په افغانستان کې پانګونې ته تشویق کړي.

د ده په وینا د چین حکومت د طالبانو د رژیم تر سقوط وروسته ۲۰۰ ملیونه ډالر وړیا مرسته کړې ده او د چین سترې کمپنی د بیارغونې او سرک جوړونې په برخه کې په کار بوختې دي.

چین په افغانستان کې له سترو پانګوالو څخه شمیرل کیږي او د عینک د مس د کان په استخراج یې لږترلږه ۳ ملیارده ډالره پانګونه کړې ده. افغان مقامات هیله څرګندوي چې دا اندازه به ۱۰ ملیاردو ډالرو ته زیاته شي.

په پیکنګ کې د سفارت سیاسي مرستیال ازادي راډیو ته وویل، چې د بهرنیو چارو وزیر په افغانستان کې د چین د سیاسي او اقتصادي هڅو د پراختیا هرکلی کړی او په ځانګړي ډول د کابل او اسلام اباد ترمنځ د اړیکو په ښه کولو کې د چین پر هلوځلو حساب کوي.

چین په افغانستان کې کورنیو ځواکونو ته د قدرت د سپارل کیدو د پروسې هرکلی کوي، خو په دې هیواد کې د امریکا د دایمي پوځي اډوله موجودیت سره یې مخالفت څرګند کړی.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۸۰۹۸۳۰۸

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com